مجلۀ علمی – تحقیقی هریوا

سال اول نشراتی. پیاپی دوم. شمارۀ دوم. تابستان ۱۴۰۵

**هریوا**

**(مجلۀ مطالعات حقوق و علوم سیاسی)**

Website: https://journals.edu.gov.af | https://journal.hariwa.edu.af | ناشر: پوهنتون هریوا

# د جعل او تزویر جرایم د افغانستان اسلامي امارت د جزايي اصولنامې په رڼا کې

OPEN ACCESS

Hariwa University (Research and Scientific Journal)

تاریخ دریافت: ۱۴۰۵/۰۱/۱۲

تاریخ نشر: ۱۴۰۵/۰۴/۰۸

تعداد صفحات: ۱۸

**نگارندگان:** پوهنیار عبدالرحمن اخکزی[۱]، پوهنیار محمدهاشم حسرت[۲]، پوهنیار محمدعارف قرآنمل[۳]

## لنډیز

جعل او تزویر هغه جرایم دي چې د حقیقت د تحریف، په اسنادو کې د لاسوهنې او عمومي باور د له منځه تللو سبب ګرځي. دا څېړنه د «جعل او تزویر د اسلامي امارت د جزايي اصولنامې په رڼا کې» تر عنوان لاندې ترسره شوې ده، چې پکې د جعل او تزویر مفاهیم، ډولونه، جرمي عناصر، شرعي حیثیت او قانوني مجازات په علمي ډول څېړل شوي دي. جعل او تزویر د هغو جرایمو له جملې څخه دي چې د اسنادو اعتبار او ټولنیز اعتماد زیانمنوي او پر اقتصادي، حقوقي او اداري نظام مستقیم منفي اغېز لري. د دې موضوع څېړنه د عامه پوهاوي او قانوني درک لپاره مهم ارزښت لري. په دې څېړنه کې له توصیفي– تحلیلي مېتود څخه کار اخیستل سوی دی او معلومات د کتابتوني منابعو، قرآن کریم، نبوي احادیثو او فقهي– حقوقي اثارو څخه راټول شوي دي. د څېړنې موخه د جعل او تزویر پېژندنه، د هغوی ترمنځ توپیر، د جرمي عناصرو تحلیل، شرعي حکم څرګندول او د اسلامي امارت د جزايي اصولنامې له مخې د مجازاتو روښانه کول دي. پایله څرګندوي چې جعل او تزویر قصدي جرایم دي چې د قانوني، مادي او معنوي عناصرو پر شتون تحقق مومي او د اسلامي شریعت له نظره حرام بلل کېږي. د اسلامي امارت د جزايي اصولنامې له مخې، د جعل او تزویر لپاره متدرج او د جرم له ماهیت سره متناسب تعزیري مجازات ټاکل شوي دي؛ په دې ډول چې د حبس موده یې له دوو میاشتو څخه پیلېږي او تر دریو کلونو پورې رسېږي. همدارنګه، د جرم د تکرار او نورو مشدده حالاتو په صورت کې، د حبس موده تر پنځو کلونو پورې لوړېدلی شي. له دې سره، یوازې جزايي مجازات د دغو جرایمو د مخنیوي لپاره بسنه نه کوي، بلکې د عامه پوهاوي لوړول، د اداري شفافیت پیاوړتیا، د اسنادو او اجراآتو د څارنې اغېزمن میکانیزمونه، او د قانون عادلانه او جدي تطبیق هغه مهم عوامل دي چې کولای شي د جعل او تزویر د جرایمو په مخنیوي او د ټولنیز اعتماد په ټینګښت کې اغېزناک رول ولوبوي.

**کلیدي کلیمې:** باور، تزویر، جعل، جزايي اصولنامه، سندونه، عدالت.

[۱] حقوق څانګه، حقوق او سیاسي علوم پوهنځی، ملالی پوهنتون، کندهار، افغانستان. ایمېل: lawyerabdullrahman@gmail.com

[۲] سیاسي علوم او نړیوالو اړیکو څانګه، حقوق او سیاسي علوم پوهنځی، ملالی پوهنتون، کندهار، افغانستان. ایمېل: hashamhasrat56@gmail.com

[۳] حقوق څانګه، حقوق او سیاسي علوم پوهنځی، ملالی پوهنتون، کندهار، افغانستان. ایمېل: arifquranmal210.gmail.com

**استفاده از مقالات مجله با ذکر نام و مصدر مجاز است.**

Hariwa University (Research and Scientific Journal)

**First Year of Publication, Serial No. 2 | Summer 2026**

**Hariwa**
**(Journal of Law and Political Science)**

*Publisher: Hariwa University* | *Website: https://journals.edu.gov.af* | *https://journal.hariwa.edu.af*

OPEN ACCESS

# *The crime of forgery and falsification in light of the Penal Code of the Islamic Emirate of Afghanistan*

***Authors**: Abdulrahman Achakzai[4]Mohammad Hashim Hasrat[5], Mohmamad Arif Quranmal[6]*

Received: 2026/04/02 Published: 2026/06/29 Number of Pages: 18
Hariwa University (Research and Scientific Journal)

## *Abstract*

*Forgery and falsification are crimes that lead to the distortion of truth, manipulation of documents, and the erosion of public trust. This study, entitled "Forgery and Falsification in Light of the Penal Code of the Islamic Emirate," has been conducted, in which the concepts, types, criminal elements, legal status under Islamic law, and legal punishments of forgery and falsification have been examined scientifically. Forgery and falsification are among the crimes that undermine the credibility of documents and social trust and have direct negative effects on the economic, legal, and administrative system. The study of this subject is of significant importance for public awareness and legal understanding. In this research, the descriptive–analytical method has been employed, and information has been collected from library sources, the Holy Qur'an, Prophetic traditions, and jurisprudential and legal works. The objective of the study is to identify forgery and falsification, distinguish between them, analyze their criminal elements, clarify their legal ruling, and explain the punishments according to the Penal Code of the Islamic Emirate. The findings indicate that forgery and falsification are intentional crimes that are realized through the existence of legal, material, and moral elements, and they are considered prohibited under Islamic law. According to the Penal Code of the Islamic Emirate, graduated discretionary punishments proportionate to the nature of the crime have been prescribed for forgery and falsification; thus, the term of imprisonment starts from two months and extends up to three years. Furthermore, in cases of recidivism and other aggravating circumstances, the term of imprisonment may be increased up to five years. Nevertheless, criminal punishments alone are not sufficient to prevent these crimes; rather, raising public awareness, strengthening administrative transparency, establishing effective mechanisms for monitoring documents and procedures, and ensuring the fair and strict enforcement of the law are important factors that can play an effective role in preventing the crimes of forgery and falsification and in strengthening social trust.*

***Keywords:** Trust, Counterfeiting, Criminal Principles Code, Forgery, Documents, Justice.*

[4] Department of Law, Faculty of Law and Political Sciences, Malalay University, Kandahar, Afghanistan. Email:lawyerabdullrahman@gmail.com
[5]Department of I&R, Faculty of Law and Political Sciences, Malalaiy University, Kandahar, Afghanistan. Email: hashamhasrat56@gmail.com
[6] Department of Law, Faculty of Law and Political Sciences, Malalay University, Kandahar, Afghanistan. Email: arifquranmal210@gmail.com

***The use of the journals articales is permitted provided that the authors name and the source are properly cited.***

## ۱. مقدمه

الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبُّ الْعَالَمِينَ، وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَى رَسُولِهِ مُحَمَّدٍ، وَعَلَى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ أَجْمَعِينَ، وَبَعْدُهُ!. عدالت او صداقت د ټولنې د استحکام، امنیت او پرمختګ دوه بنسټیز ستنې دي. په هره ټولنه کې چې د حقیقت او امانت روح حاکم وي، هلته د خلکو تر منځ اعتماد او د معاملاتو روڼتیا تضمین سوی وي. د اسلام مقدس دین د صداقت، امانت او عدالت د ساتنې لپاره هر هغه عمل چې د حقیقت په مخ کې پرده اچوي، د دروغو او فریب پر بنسټ ولاړ وي، او د افرادو حقوق تر پښو لاندي کوي، په شدید ډول حرام ګرځولی دی. الله ﷻ فرمايي: وَاجْتَنِبُوا قَوْلَ الزُّورِ(الحج: ۳۰) ژباړه: او ځان وساتئ تاسي له وینا د دروغو څخه (الحسن، ۱۴۰۴هـ، مخ ۲۰۶). همدارنګه، د امانت د خیانت په اړه فرمايي: إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْخَائِنِينَ (الأنفال: ۵۸). ژباړه: یقیناً الله ﷻ نه خوښوي خیانت کوونکې (الحسن، ۱۴۰۴هـ، مخ ۱۰۲۸). د دې آیتونو په رڼا کې، هغه جرایم چې د حقیقت په تحریف، اسنادو کې د لاسوهنې او د اعتبار د ویجاړولو سبب ګرځي، له سترو ګناهونو څخه ګڼل کیږي. الله ﷻ فرمايي: مِّنَ الَّذِينَ هَادُوا يُحَرِّفُونَ الْكَلِمَ عَن مَّوَاضِعِهِ وَيَقُولُونَ سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا ... (النساء: ۴۶). ژباړه: ځیني له هغو کسانو چې یهودان شوي دي اړوي دوی خبري (د شریعت او محمدي اوصاف) له ځایو د دې (خبرو) څخه او وائۍ دغه (یهودان) واوریدله مونږ (وینا ستا) او ونه ما نه مونږ (حکم ستا). (الحسن، ۱۴۰۴هـ، مخونه ۴۷۹ – ۴۸۰). همداراز، رسول الله ﷺ فرمايي: مَنْ غَشَّنَا فَلَيْسَ مِنَّا ... .ژباړه: څوک چې مونږ ته دوکه راکوي له مونږ (زما له اُمت) څخه نه دئ (الترمذي، ۱۴۳۹هق. حدیث: ۱۹۴۲). جعل او تزویر د دغو جرایمو له جملې څخه دي چې په نننۍ پیچلې نړۍ کې یې ابعاد لا پراخ او زیانونه یې لا جدي شوي دي. جعل او تزویر دوه بېل بېل خو سره نږدې حقوقي مفاهیم دي؛ چیرته چې جعل ډېر ځله په مالي اسنادو، پیسو، بانکنوټونو او سکو کې د جعلي شیانو د جوړولو په معنا راځي، هلته تزویر په لیکنو، مهرونو، لاسلیکونو او رسمي اسنادو کې د حقیقت خلاف تغیر ته ویل کیږي.

په افغانستان کې د دغو دوو جرمونو قانوني بڼه دوه ګونې تجربه لري: د ۱۳۹۶هش. کال جزاکوډ دواړه جلا جلا تعریف کړي دي، خو د افغانستان د اسلامي امارت د ۱۴۴۷/۷/۱۵هق. نېټې د جزایي اصولنامه دواړه یو ځای او په تفصیل سره د دوهم باب په لومړي او دوهم فصلونو کې (له ۸۲ څخه تر ۹۴ مادې پوري) د جرم تشکیلوونکې عناصر، ډولونه او مجازات یې بیان کړي دي. په دې اصول نامه کې د جعل او تزویر لپاره هغه وخت مجازات تاکل شوي، چې کله دا عمل په قصدي ډول، د فریب په خاطر او د نورو د زیانمنولو په نیت ترسره شي.

د دې څېړنې موخه داده چې «د جعل او تزویر د مفاهیمو پېژندنه او د دوی ترمنځ توپیرونه روښانه کړي، د هغوی د جرمي عناصرو (قانوني، مادي او معنوي) تحلیل وکړي، د اسلامي شریعت له نظره د دغو اعمالو

حرمت په قرآني آيتونو، احاديثو او فقهي قواعدو سره مستند کړي، او په پای کې د اسلامي امارت د جزايي اصولنامې پر بنسټ د دغو جرمونو مجازات په منظم ډول وړاندې کړي. تمه کېږي چې دا څېړنه به د قضايي ارګانونو، حقوقي مسلکيانو، محصلينو او ټولنيزو فعالانو لپاره د دغو جرمونو د پېژندلو او د هغوی د مخنيوي په برخه کې يو عملي او علمي لارښود وي.

## د څېړنې ستونزه

جعل او تزوير د هغو جدي جرايمو څخه دي چې نه يوازې د افرادو حقوق تر پښو لاندې کوي، بلکې د ټولنې پر عمومي نظم، اقتصادي ثبات او حقوقي باور منفي اغېز کوي. سره له دې چې اسلامي شريعت جعل او تزوير په صراحت سره حرام ګڼلی دی او دغه اعمال يې د دروغ، درغلۍ او خيانت په توګه معرفي کړی دی. خو داچې جعل او تزوير د غير مقدرو جرمونو له جملې څخه دي، ځکه د افغانستان د اسلامي امارت له خوا د جزايي اصولنامې په تصويب سره، د جعل او تزوير جرمونو ته د تعزيراتو په حيث په دوهم باب (لومړی او دوهم فصلونه، له ۸۲ څخه تر ۹۴ مادې پورې) کې په پراخه کچه او د شديدو مجازاتو سره رسيدګي شوې ده. خو د دې سره سره، لاندې ستونزې شتون لري: ۱-د جعل او تزوير د خطر زياتوالی. ۲-د نوي قانوني چوکاټ (اصولنامې) د انفاذ اغېزمنتوب. ۳- د يادو جرمونو د شرعي حرمت، خطرونو او د دې جرمونو څخه د مخنيوي د لارو چارو په اړه کافي عامه پوهاوي نه شتون. ۴- په پښتو ژبه کې په دې عنوان د رسالې، مقالې او کتاب نه شتون. ۵- د جعل او تزوير پېښو زياتوالی او نوري هغه ستونزي دي چې دا اړتيا را منځ ته کوي، ترڅو په دې عنوان «د جعل او تزوير جرمونه د اسلامي امارت د جزايي اصولنامې په رڼا کې» څېړنه وشي او د يادو جرمونو پېژندنه، ډولونه يې، تشکيلوونکي عناصر يې، د يادو جرمونو ترمنځ توپيرونه او د اسلامي امارت د جزايي د اصولنامې پر بنسټ د دغو جرمونو مجازات واضح او روښانه کړل شي.

## د څېړنې اهميت

جعل او تزوير د هغو جدي ټولنيزو آفتونو له جملې څخه دي چې د يوې ټولنې اقتصادي، حقوقي او اخلاقي بنسټونه تر اغېز لاندې راولي. دا چې د ټولنې د اقتصادي، تجارتي او اداري معاملو بنسټ پر اعتماد ولاړ دی، او ددغه اعتماد اساس د اسنادو، مهرونو، لاسليکونو او رسمي کاغذونو پر اصالت ولاړه ده. کله چې جعل او تزوير رامنځته شي، نو يوازې يو فردي جرم نه وي، بلکې د ټولنيز اعتبار، د اسنادو د حجيت، او د حقوقي نظام د ټينګښت پر بنسټونو بريد کوي. په هر صورت؛ د دې څېړنې اهميت په لاندې ټکو کې څرګنديږي: ۱-له شرعي اړخه: د جعل او تزوير شرعي حکم، د قران کريم او نبوي احاديثو په رڼا کې څېړل، ترڅو د دې جرمونو د حرمت شدت ثابت کړي. ۲-له قانوني اړخه: د اسلامي امارت د جزايي اصولنامې د دوهم باب (لومړی او دوهم فصلونه، له ۸۲ څخه تر ۹۴ مادې پورې) تفصيلي تحليل، ترڅو د نوي قانوني چوکاټ اغېزمنتوب روښانه

کړي. ۳- له علمي اړخه: په پښتو ژبه کې د دې موضوع په اړه د یوې علمي او تحلیلي لیکنې نشتون، چې دا څېړنه به د یاد تشې ډکولو کې مهم رول ولري. ۴- له عملي اړخه: د دې څېړنې پایلې او وړاندیزونه کولای شي د قضایي ارګانونو، قانون جوړونکو او امنیتي ادارو لپاره د جعل او تزویر په مخنیوي کې د یو لارښود رول ولوبوي.

## د څېړنې موخه

د دې څېړنې موخه دا ده چې د اسلامي امارت د جزایي اصولنامې په رڼا کې د جعل او تزویر د جرم د مفهوم، حقوقي ماهیت او ټاکل شوو جزایي سزاوو روښانه کول او تحلیلول.

## د څېړنې پوښتنه

د اسلامي امارت د جزایي اصولنامې له مخې جعل او تزویر جرم څنګه تعریف شوی او د هغه لپاره کومې سزاوې ټاکل شوې دي؟

## د څېړنې کړنلاره

دا چې دغه علمي څېړنیزه مقاله د اسلامي امارت د جزایي اصولنامې په رڼا کې د جعل او تزویر د جرمونو اړوند ده. نو د توصیفي– تحلیلي مېتود پر بنسټ لیکل شوې ده. څرنګه چې د څېړنې موضوع ماهیتاً مفهومي، فقهي او حقوقي اړخونه لري، نو احصائیوي مېتود ورته مناسب نه و؛ بلکې د موضوع د ژور فهم لپاره کیفي تحلیل غوره وبلل سو. د څېړنې معلومات د کتابتوني مېتود له لارې راټول شوي، چې پکې له قرآن کریم، نبوي احادیثو او معتبرو کتابونو او علمي مقالو څخه استفاده شوې ده. د قرآني آیتونو د ژباړې په برخه کې له کابلي تفسیر څخه استفاده شوې، او نبوي احادیث د صحاح سته له معتبرو منابعو څخه اخیستل شوي دي. په پای کې، دا څېړنه د بشپړ اخلاص، رښتینولۍ، علمي امانتدارۍ او ټولو اسلامي او عرفي ارزښتونو په رعایت سره ترسره شوې ده.

## د څېړنې موندنې

جعل او تزویر یو له بل څخه جلا حقوقي مفاهیم دي، خو له یو بل سره ډېر مشابهت لري. د ۱۳۹۶هش. کال جزاکوډ دواړه بېل بېل پېش بیني کړي وو، ځکه د بحث موضوعات يې یو له بل سره توپیر لري؛ یعني د جعل موضوع پیسې، سکې، بانکوټ، قیمتي او مالي پاڼي یا سندونه دي؛ په داسي حال کې چې د تزویر په عام ډول موضوع، سندونه، مُهر او امضاء یادېږي (ذاکر، ۱۳۹۸هش. مخ ۱۵۹). خو د اسلامي امارت جزایي اصولنامې دواړه یو ځای ذکر کړي دي.

### الف - د جعل تعریف او مفاهیم

بانکنوټ او سکې د پیسو ډولونه دي چې له دولت پرته يې بل هیڅ (حقیقي یا حکمي) شخص د ضرب یا چاپ صلاحیت نه لري. سکه ټاکلې وزن لري چې له سرو زرو، سپینو زرو، نیکل، برنج او نورو فلزاتو څخه جوړېږي؛

هري سکې ته ارزښت ټاکل کېږي او په راکړه ورکړه کې استفاده کېږي. دولت د مسکوکاتو د مصؤنیت په موخه لازم قواعد را منځ ته کوي چې له مخې یې هیڅ (حقیقي یا حکمي) شخص نه سي کولای د یادو سکو د وزن زیاتولو یا کمولو، معیار بدلولو، ذوب کولو، له نورو سکو سره په ګډولو، سولولو، تراشلو یا د نوو سکولو په جوړولو لاس پوري کړي. که څوک د داخلي، خارجي، طلايي، نقره يي یا بل هر ډول مسکوکاتو مشابه مسکوکات جوړ کړي، د قانون له حکم پرته یې خارج ته صادر یا هیواد ته وارد کړي، ویې تراشي، وزن یې کم کړي یا یې د رایجولو کوښښ وکړي د مسکوکاتو د تقلب جرم مرتکب پېژندل کېږي (واثق درانی، ۱۳۹۷هش. مخونه ۲۰۳ – ۲۰۶).

## ۱- د جعل لغوي او اصطلاحي تعریف

جعل په لغت کې سرچپه کولو، اړولو، بدلولو، جوړولو، وضع کولو او رامنځ ته کولو ته ویل کېږي (کرامت او امیرزوی، ۱۳۹۶هش. مخ ۳۰۳). همدداراز، جعل پیداکولو، تقلب کولو او د واقعیت خلاف څرګندولو ته ویل کېږي (واصل، ۱۳۹۸هش. مخ ۲۷۳). د دې ترڅنګ؛ جعل ګرځولو او تقلب کولو ته ویل کېږي(معین، ۱۳۸هش. مخ ۱۵۰). سربېره پر دې؛ جعل په مشروع یا غیر مشروع ډول شی د حقیقت خلاف اړولو، جوړولو او پیدا کولو ته ویل کېږي (عارفي، ۱۳۹۸ل. مخ ۲۷۹). الله ﷻ فرمايي: وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَائِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً (البقره: ۳۰). ژباړه: او (یاد کړه ای محمده!) هغه وخت چې ووېل پروردګار ستا پرښتو ته چې بېشکه زه ګرځوونکی یم په ځمکه کې د یوه خلیفه (الحسن، ۱۴۰۴هـ، مخ ۲۳).

علماؤو د جعل لپاره بېلابېل تعریفونه کړي، خو د ټولو مفهوم او موخه یوه ده، چې ځیني یې په لاندي ډول دي:

- فقهاء کرام رحمهم الله فرمايي: "تغيير الحقيقة في المحررات أو الأقوال أو العلامات بقصد الغش والاحتيال". ژباړه: د حقیقت بدلول په لیکلي اسنادو، ویناوو یا نښو کې، د فریب او چل لپاره. (عوده، بې تا، مخ ۴۹۲).
- د ځان په ګټه یا د بل چا په زیان په لیکنه او ټولو هغو شیانو کې بدلون راوستلو ته ویل کېږي چې په قانون کې یې یادونه شوې وي (کرامت او امیر زوی، ۱۳۹۶هش. مخ ۳۰۳).
- د ګارو په نوم عالم یې داسي تعریفوي: جعل هغه وخت تحقق پیدا کوي چې کله په کوم سند کې د حقیقت خلاف داسي تغیر رامنځ ته سي چې اغېزناک وي او د خسارې د جبران مؤجب وګرځي.
- ګارسون یې داسي تعریفوي: جعل په سند کې د حقیقت خلاف داسي تغیر ته ویل کېږي چې په قانون کې یې ذکر سوی وي او د خسارې د جبران مؤجب ګرځي.

- اقا ګوایه یې داسې تعریفوي: جعل د حقیقت خلاف په داسې ډول اسنادو جوړولو یا ګډوډولو ته ویل کېږي چې په قانون کې یې یادونه شوې وي او زیان راوړونکې وي (عارفي، ۱۳۹۸هش. مخ ۲۸۰).
- چا ته د زیان رسولو په موخه د ځان یا بل چا له لوري تر اصلي نوم لاندې د لیکنې یا نورو قانوني توکو په اګاهانه ډول تغیرولو ته جعل ویل کېږي (صادقي، ۱۳۷۴هش. مخ ۲۴۸ او واصل، ۱۳۹۸ هش. مخونه ۲۷۳ – ۲۷۴).

## ۲ - د جعل ډولونه

جعل پر دوو ډولونو وېشل کېږي:

لومړی - **مادي جعل:** دا جعل هغه وخت صورت نیسي چې کله سند مخکې له مخکې لیکل سوی وي، خو وروسته د تراشلو، زیاتولو، کمولو او داسې نورو لارو چارو په پایله کې تغیر ومومي. مادي جعل بېلا بېل اشکال لري؛ لکه تقلبي امضاء کول، تراشل او ګرول، یو ځای کول، تورول، محوه کول، له یوې لیکنې سره بله لیکنه یو ځای کول، له اجازې پرته د بل چا مُهر پر سند وهل او داسې نور. مادي جعل تر ډېره په غیر رسمي اسنادو کې واقع کېږي (عارفي، ۱۳۹۸هش. مخ ۲۸۲).

دوهم - **معنوي جعل:** دا جعل هغه وخت صورت نیسي چې کله د سند لیکل جریان ولري. دلته لیکنه په اصل او ذات کې صحیحه وي، خو ناسم مفهوم افاده کوي(عارفي، ۱۳۹۸هش. مخونه ۲۸۲ – ۲۸۳). مثلاً: احمد له محمود څخه په دوه لکه افغانۍ موټر رانیسي چې نیمایي پیسې یې اوس او نورې وروسته ورکوي، خو په سند کې لیکل کېږي چې ټولې پیسې همدا اوس ورکول کېږي. دلته لیکنه په اصل او ذات کې صحیحه ده، خو دا چې بشپړ قیمت تأدیه سوی نه دئ نو ځکه ناسم مفهوم رشوي.

معنوي جعل ډېر کله د دولتي کارکوونکو له لوري تر سره کېږي، داسې چې:

- د اسنادو تهیه کولو پر مهال د لیکنې شکل او محتوا ته تغیر ورکوي. مثلاً؛ د فلاني جنس قیمت ورکول سوی وي، خو دی لیکي چې نه دئ ورکول سوی.
- داسې څه لیکل چې صورت یې اصلاً موندلی نه وي. مثلاً؛ محکمه د تورن د برائت یا محکومیت په تړاو هیڅ نه وایي، خو منشي لیکي چې محکمې د فلاني شخص په برائت حکم صادر کړ.
- داسې اظهارات او ویناوې ثبتول چې اصلاً بې بنسټه وي: مثلا؛ یو نفر د طلاق په تړاو بې ځایه دلایل وایي، قاضي هم پوهېږي چې د شخص خبرې حقیقت نه لري خو بیا یې هم لیکې یا ثبتوي(عارفي، ۱۳۹۸هش. مخونه ۲۸۰ – ۲۸۱).

### ۳ - د جعل د جرم تشکیلوونکې عناصر

ددې له پاره چې د جرمي او غیر جرمي اعمالو تر منځ توپیر وشي، نو حقوق پوهانو د جرمي اعمالو د پېژندلو له پاره درې بنسټيز عناصر ټاکلي. که په هر عمل که دا درې واړه عناصر یا دوه او یا یو له دې عناصرو څخه شتون و نه لري، یاد عمل جرم نه ګڼل کیږي، بلکې مشروع او مباح عمل ګڼل کیږي. دې عناصرو ته جرم تشکیلوونکې عناصر وايي. دغه تشکیلوونکې عناصر په لاندې ډول دي:

لومړی – قانوني عنصر: یو عمل هغه وخت جرم ګڼل کیږي چې کله اسلامي شریعت یا جزا قانون جرم ګڼلی وي، خو که یو عمل اسلامي شریعت یا جزا قانون جرم نه وي ګڼلی نو دغه عمل جرم نه حسابېږي.

دوهم – مادي عنصر: یو عمل چې د اسلامي شریعت یا جزا قانون له خوا جرم ګڼل سوی وی هغه وخت جرم ګڼل کیږي کله چې عملاً او مادتاً واقع شي، خو تر څو چې عملاً او مادتاً واقع نه شي نو تر هغو جرم نه را منځ ته کیږي اونه هم د عمل پر مرتکب مجازات تطبیقېږي. مثلاً د شرابو څښل چې د تحریم حکم یې قانوني عنصر دی، خو چې عملاً وڅښل شي نو شراب د جرم مادي عنصر تحقق پیدا کوي او جرم منځ ته راځي مګر که عملاً و نه څښل شي نو د شرابو څښلو جرم نه را منځ ته کیږي.

دریم – معنوي عنصر: یو عمل که د اسلامي شریعت یا جزا قانون له خوا جرم ګڼل سوی وي او عملاً اجراء هم شي – قانوني او مادي عناصر یې شتون ولري – ، نو په دریم قدم کې دا هم اړینه ده چې د مرتکب اراده په دې جرم کې دخیله وي چې دغه د ارادې شتون ته د جرم معنوي عنصر ویل کیږي. خو که دوه لومړني (قانوني او مادي عناصر) وجود ولري، ولې معنوي عنصر وجود و نه لري لکه د عمل مرتکب مجنون، طفل یا مُکرَهَ اشخاص وي، نو شخص مسؤل او قابل د مجازاتونه ګڼل کیږي (دانش، ۱۳۹۶هش. مخونه ۵۰ – ۵۱).

بناءً؛ د جعل د جرم تشکیلوونکې عناصر عبارت دي له:

لومړی – قانوني عنصر: د جزايي اصولنامې د (۲) مادې (۱۴) بند او د دوهم باب لومړی او دوهم فصلونه چې له (۸۲ څخه تر ۹۴) مادې پورې د یاد جرم قانوني عنصر تشکیلوي.

دوهم – مادي عنصر: دا هغه ظاهري او عملي کړنې دي چې جرم ځنې جوړېږي.د یاد جرم مادي عنصر څو بڼې لري:

۱- د جعل اصلي عمل. لکه؛ د پیسو، سکو یا بانکنوټونو جعل کول او شبیه جوړول چې له اصلي سره توپیر ستونزمن وي.

۲- د جعل اړوند اعمال. لکه؛ جعلي پیسې په حیازت کې راوستل، انتقالول، په بازار کې ترویجول او کارول یا معامله کول.

۳- د وسایلو او امکاناتو برابرول. لکه؛ د یادو وسایلو جوړول، پلورل، کارول او ساتل.

۴- د سکو او بانکنوټونو تخریب. لکه؛ سکې معیوبول، کمول او سپکول، د بانکن وټونو مهر کول، لیکنه پر کول یا خرابول.

۵- فریب ورکوونکې بدیلونه. لکه؛ ورته فلزي ټوټې یا سکې په جریان کې اچول او د جعلي ټوکنونو جوړول .

۶- نور تکمیلي اعمال. لکه؛ د جعلي پیسو د سوداګرۍ لپاره اعلانونه کول او د ضراب خاني وسایلو ایستل.

دریم – معنوي عنصر: جعل له قصدي جرمونو څخه دئ(عارفي، ۱۳۹۸هش. مخ ۱۶۶).

### ب - د تزویر تعریف او مفاهیم

د ټولني د سیاسي، ټولنیزو او اقتصادي اړیکو استحکام د دې غوښتنه کوي چې د افرادو تر منځ مبادلات خوندي، د اعتماد وړ، د قانون په چوکاټ کې داخل او له هر ډول فرېب او تزویر څخه خالي اوسي؛ یعني هغه لیکني او سندونه چې د ښلا ښېلو موخو له پاره استعمالېږي باید له صحت او لازم اصالت څخه برخمن وي. د تزویر جرم د اسنادو له پیدایښت سره یو ځای منځ ته راغلی دئ او تر اوسه پوري شتون لري. تزویر د عمومي ګټو خلاف او د افرادو تر منځ بې اعتمادۍ را منځ ته کوونکو جرمونو څخه دئ، ځکه چې کله کوم څوک دا جرم تر سره کوي نو نه یوازي فرد زیانمنوي بلکې ټولني ته هم زیان رسوي؛ عمومي نظم ګډوډوي او د افرادو عمومي ارامتیا له منځه وړي چې په پایله کې بې مختلف ټولنیز فعالیتونه ولاړ پاتېږي. وګړي یوازي هغه وخت پر یو بل باور کولای شي چې کله یې تر منځ اړیکې له چل او دوکې څخه پاکې وي.

### ۱- د تزویر لغوي او اصطلاحي تعریف

تزویر د زَوَرَ مصدر دئ چې په لغت کې دروغ، باطل او د حقیقت خلاف ښودلو ته ویل کیږي؛( عارفي، ۱۳۹۸هش. مخ ۲۸۲) میلان او عدول (له لاري ګرځېدلو) ته هم ویل کیږي. په بل عبارت؛ تزویر د زَوَرَ له کلمې څخه اخیستل سوی دئ چې په دروغو ښکلي کولو، فرېب یا دوکې ورکولو، تقلب یا د حقیقت خلاف کوم شي جوړولو او ځلولو ته ویل کیږي.

علماؤو د تزویر لپاره بېلابېل تعریفونه کړي، خو د ټولو مفهوم او موخه یوه ده، چې ځیني یې په لاندي ډول دي:

- تزویر د بل چا په وړاندي د واقعیت خلاف کوم شي ښکلي کولو یا یې توصیف کولو ته ویل کیږي تر څو د شي ماهیت پټ وساتل شي؛ یعني د کوم شي په داسي اندازه ښکلي کولو یا یې توصیف کولو ته ویل کیږي چې اورېدونکی یا لیدونکی یې له حقیقت څخه ناخبر پاته شي.

- د واقعیت خلاف کار قصداً تر سره کولو ته تزویر ته ویل کیږي (واصل،۱۳۹۸هش. مخ ۲۷۴).

- تزویر د داسي سند جوړولو یا ښودلو ته ویل کیږي چې د مقابل لوري د تېروتلو لامل وګرځي (عارفي، ۱۳۹۸هش. مخ ۲۸۲).

- د بل چا په زیان یا د حقیقت خلاف سند جوړولو ته تزویر ویل کیږي.

- هر هغه قول یا عمل چې باطل د حقیقت په څېر ښکلی کړي تزویر بلل کیږي. تزویر شوي اسناد او د دروغو شهادت یې ښه بېلګي دي (واثق درانی،۱۳۹۷هش. مخ ۱۶۲).

- جزايي اصولنامه یې د (۲) مادې په (۱۴) بند کې داسې تعریفوي: «جعل او تزویر: د حقیقت پر خلاف د لیکلو جوړول، د سند جوړول، مهر جوړول یا د بل چا لاسلیک کول، یا د تحریر په مښلو، ورانولو یا قلم خورده کولو یا زیاتولو یا له منځه وړلو یا تورولو او داسې نورو وسیلو سره د وثائقو او رسمي اسنادو په محتوی کې تغیر راوستل دي».

## ۲- د تزویر ډولونه

د مرتکبینو له حیثه تزویر پر لاندې ډولونو وېشل سوی دئ: ۱. د رسمي کارمندانو له لوري د رسمي اسنادو تزویر. ۲. د رسمي کارمندانو له لوري د غیر رسمي اسنادو تزویر. ۳. د عامو خلکو له لوري د رسمي اسنادو تزویر. ۴. د عامو خلکو له لوري د غیر رسمي اسنادو تزویر(واثق درانی، ۱۳۹۷هش. مخونه ۱۶۵ – ۱۶۶).

## ۳- د تزویر علایم او نښې

کولای سو د دغو علایمو او نښانو په مرسته په اسنادو کې تزویر او لاسوهنه تشخیص کړو: ۱. د کاغذ په پورتنۍ برخه کې غیر منظموالی. ۲. په تراشل شوي ځای کې د کاغذ د رنګ بدلون. ۳. د مهرونو د کیفیت ټیټوالی. ۴. ګرامري غلطي. ۵. د خطونو او رسمونو نه یو شان والی (عارفي، ۱۳۹۸هش. مخ ۲۸۳).

## ۴- د تزویر د جرم تشکیلوونکې عناصر

د تزویر د جرم تشکیلوونکې عناصر عبارت دي له:

لومړی – قانوني عنصر: د جزايي اصولنامې د (۲) مادې (۱۴) بند او د دوهم باب لومړی او دوهم فصلونه چې له (۸۲ څخه تر ۹۴) مادې پوري د یاد جرم قانوني عنصر تشکیلوي.

دوهم – مادي عنصر: د مرتکب لاندې کړني د تزویر جرم مادي عنصر تشکیلوي: ۱– د حقیقت خلاف لیکنې جوړول. ۲– د حقیقت خلاف امضاء کول. ۳– د حقیقت خلاف مُهر یا ټاپه جوړول یا لګول. ۴– د حقیقت خلاف اسناد جوړول. ۵– په لیکنه، امضاء، مُهر یا ټاپه کې کموالی یا زیاتوالی راوستل. ۶– د لیکنې، امضاء او مُهر تغیرول د تبدیل په شکل. ۷– د لیکنې، امضاء او مُهر تغیرول د تقلید په شکل. ۸– د لیکنې، امضاء او مُهر تغیرول د حذف په شکل. ۹– تزویري شیان استعمالول. ۱۰– د دولت حقیقي مُهر د عامه منافعو په ضرر استفاده کول. ۱۱– مُهر د خصوصي منافعو په ضرر استفاده کول. ۱۲ – د معاش جدول یا د دولتي خزانې نور سندونه جوړول. ۱۳– کورنۍ یا بهرنۍ تحصیلي سند جوړول. ۱۴ – د غیر واقعي شرکت جواز جوړول. ۱۵ – لېسنس او جواز سیر جوړول. ۱۶ – د تابعیت تذکره جوړول. ۱۷ – پاسپورټ، د مسافرت او اقامت او داسې نور سندونه جوړول (واثق درانی، ۱۳۹۷هش. مخونه ۱۶۴ – ۱۶۵).

دریم – معنوي عنصر: تزویر له قصدي جرمونو څخه دئ(عارفي، ۱۳۹۸هش. مخ ۱۶۶).

### ۵- د تزویر جرم ځانګړني

د تزوير جرم يو شمېر ځانګړنې لري چې پر بنسټ يې له نورو جرمونو څخه تفکيک کيدای شي.

### لومړی - د محتوا له حيثه

په تزوير کې مزوير د سند مندرجات او محتويات تراشي او مُحکمه کوي يې، قلم خوره کوي يې، تاريخ يې ور تغيروي او داسي نور چاري په کوي؛ په دې معنا چې سند مخکې له مخکې موجود وي، خو مزوير وروسته تغيرات پکښې راولي.

### دوهم - د جرم د ډول له حيثه

تزوير د عمدي جرمونو له ډلې څخه دئ؛ يعني مزوير په قصدي ډول سند يا نوشته په تقبلي ډول ترتيبوي او غير مجاز تصرف په داسي ډول پکښې کوي چې مفهوم يې تغير شي. دا جرم د مرتکب د مخکيني قصد او ارادې له مخې را منځ ته کيږي او هيڅوک دا ادعاء نه شي کولای چې ګويا دا جرم يې د بې هوښۍ، خوب... په حالت کې کړی دئ. البته، جعل او تزوير د اجبار او اضطرار له امله هم را منځ ته کيدای شي، نو په دې صورت کې مُکرَه د فاعل په مجازاتو محکومېږي.

### دريېم - د جرم د موضوع له حيثه

د تزوير موضوع په اصل کې هغه ليکني او اسناد دي چې د دفاع او اثبات په مقامونو کې د دليل او ارزښت وړ وي، توپير نه کوي چې رسمي دي که غير رسمي.

### څلورم - د جرم د ارتکاب له حيثه

د جعل او تزوير جرمونو مادي عنصر د مثبت عمل پر بنسټ را منځ کيږي؛ يعني د فعل پرېښودلو پر بنسټ نه شي را منځ ته کيدای. مګر معنوي جعل ممکن د فعل پرېښودلو پر بنسټ را منځ ته شي.

### پنځم - د جرم د حيثيت له حيثه

جعل او تزوير د عمومي ګټو ضد او نظم اخلالوونکو جرمونو څخه شمېرل کيږي چې په ډېرو جزايي نظامونو کې يې په وړاندي شديد مجازات پيش بيني شوي دي. دا چې د دې جرم د ارتکاب په صورت کې له يوه لوري ټولنه زيانمنېږي او له بله لوري پر اسنادو خلک بې باوره کيږي، له همدې امله يې عمومي اړخ پر خصوصي اړخ غالب دئ او د تېرېدو وړ نه شي کيدای (سحاب، ۱۳۹۷ل، مخونه ۷۹ – ۸۰).

### ۶- له جعل او تزویر څخه مخنیوی او د وقایې لاري چاري

له دغو وقايوي لارو چارو څخه په ګټنه کولای سو د تزوير مخنيوی وکړو: ۱. امضاء په پېچلې بڼه او زياتو حروفو ترسره کول. ۲. د امضاء د ساده والي په صورت کې د ګوتي نښه هم وکارول شي. ۳. امضاء د ليکني د وروستۍ کرښې د پای نقطې ته نږدې وشي. ۴. د مُهر په جوړولو کې پېچلي کلمات او نقشونه وکارول شي. ۵. له

قلم خورده ګی څخه ډېره وشي؛ قلم خورده ګي که صورت ونيسي په دې صورت کې دي يې په حاشيه يا لاندي برخه کې ذکر وشي. ۶. اسناد څو نسخې وليکل شي او ذيدخلو اشخاصو ته يو يو نقل واستول شي(سحاب، ۱۳۹۷ل، مخونه ۸۰ – ۸۱).

### ج: د جعل او تزوير شرعي حکم

د اسلام مبارک دين جعل او تزوير  په صريح ډول حرام او د لويو ګناهونو له جملې څخه ګڼلي دي، ځکه له امله يې د افرادو حقوق ضايع، عمومي نظم مختلېږي او اعتماد له منځه ځي.

### ۱- قران کريم

الله ﷻ فرمايي: مِّنَ الَّذِينَ هَادُوا يُحَرِّفُونَ الْكَلِمَ عَن مَّوَاضِعِهِ وَيَقُولُونَ سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا ... (النساء: ۴۶). ژباړه: ځيني له هغو کسانو چې يهودان شوي دي اړوي دوی خبري (د شريعت او محمدي اوصاف) له ځايو د دې (خبرو) څخه او وائې دغه (يهودان) واورېدله مونږ (وينا ستا) او ونه ما نه موږ (حکم ستا). (الحسن، ۱۴۰۴هـ، مخونه ۴۷۹ – ۴۸۰). په دې آيت کې د يهودانو د هغه عمل ذکر کړی دی چې تحريف يې کاوه، ترڅو مسلمانان د ورته عمل څخه ځان وساتي.

همداراز، الله ﷻ فرمايي: وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُم بَيْنَكُم بِالْبَاطِلِ (البقرة: ۱۸۸). ژباړه: او مه خورئ! مالونه خپل (چې واقع دی) په منځو ستاسو کې په ناحقه سره(الحسن، ۱۴۰۴هـ، مخ ۱۴۲).  دلته "باطل" هر هغه وسيله رانغاړي چې له مشروعو لارو پرته پرې مال ترلاسه شي، لکه رشوت، غصب، فريب، او جعل. په همدې اساس، جعلي اسناد، بدل شوي قراردادونه، او دروغجني حقوقي ادعاوي، چې دا ټول د دې آيت تر عموم لاندي داخلېږي.

د دې ترڅنګ؛ بل ځای الله ﷻ فرمايي: فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْأَوْثَانِ وَاجْتَنِبُوا قَوْلَ الزُّورِ(الحج: ۳۰). ژباړه: پس ځان وساتئ تاسي له پليتۍ څخه چې بتان دي او ځان وساتئ تاسي له وينا د دروغو څخه (الحسن، ۱۴۰۴هـ، مخ ۲۰۶). دلته «قول الزور» کلمه خورا ډېر پراخ او عام مفهوم افاده کوي او هر ډول دروغ، تحريف، دروغجن شهادت او حقيقت بدلول پکښې شاملېږي. نو تزوير، چې په اصل کې د حقايقو تحريف دی، د همدې نص ښکاره مصداق ګڼل کيږي. سربېره پر دې بل ځای الله ﷻ فرمايي: إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْخَائِنِينَ (الأنفال: ۵۸). ژباړه:  يقيناً الله ﷻ نه خوښوي خيانت کوونکې (الحسن، ۱۴۰۴هـ، مخ ۱۰۲۸). او همداراز، فرمايي: إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا  (النساء: ۵۸). ژباړه: يقيناً الله ﷻ امر کوي په تاسي (ای مؤمنانو!) د دې چې و سپارئ تاسي امانتونه اهل د اماناتو ته (الحسن، ۱۴۰۴هـ، مخ ۴۸۷). له دې مبارکو ايتونو څخه واضح ښکاري چې جعل او تزوير د امانت له روح سره مستقيم ټکر لري، ځکه پکښې د حقيقت او ټولنيز اعتماد سره خيانت کيږي.

## ۲- نبوي احاديث

د رسول الله ﷺ په مبارکو احادیثو کې هم له جعل او تزویر په ډېر شدت سره منع شوې ده، ځکه دا د اخلاقي او ټولنیزو فسادونو مجموعه ده. عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: مَرَّ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ عَلَى صَبْرَةِ طَعَامٍ فَأَدْخَلَ يَدَهُ فِيهَا فَنَالَتْ أَصَابِعُهُ بَلَلًا، فَقَالَ: مَا هَذَا يَا صَاحِبَ الطَّعَامِ؟ قَالَ: أَصَابَتْهُ السَّمَاءُ يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: أَفَلا جَعَلْتَهُ فَوْقَ الطَّعَامِ لِيَرَاهُ النَّاسُ؟ مَنْ غَشَّ فَلَيْسَ مِنِّي. (صحيح مسلم، بې تا، حدیث ۱۰۲). ژباړه: رسول الله ﷺ د غلې په یو ډېري باندي تېرېده هغه ﷺ په کې لاس وردننه کړ، نو ګوتو مبارک یې د نموالي احساس وکړ، نو ویې فرمایل: ای غلې والا دا څه دي؟ هغه وویل یا رسول الله ﷺ باران سوی وو، وې فرمایل چې تا دغه نم داره غله ولې را بهر نه کړه، ترڅو خلکو لیدلی وای، بیا یې وفرمایل: څوک چې دوکه کوي هغه زموږ له ډلې څخه نه دئ. په یو بل حدیث شریف کې راځي: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: مَنْ غَشَّنَا فَلَيْسَ مِنَّا، وَالْمَكْرُ وَالْخِدَاعُ فِي النَّارِ. (الترمذي، ۱۴۳۹هق. حدیث: ۱۹۴۲). ژباړه: څوک چې موږ ته دوکه راکوي له موږ (زما له اُمت) څخه نه دئ، مکرجن او چلباز به په اور کې وي. بناءً، دلته دا تعبیر د شدید وعید څرګندونه کوي. یعني چې "لیس منا" د دې عمل د حرمت او خطر د شدت څرګندونه ده، او جعل د غش (فریب) تر ټولو پېچلي بڼه ده ځکه په کې شعوري او قصدي تحریف شامل وي.

د دې تر څنګ عَنْ عَبْدِ اللهِ ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهما، عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: إِنَّ الصِّدْقَ يَهْدِي إِلَى الْبِرِّ وَإِنَّ الْبِرَّ يَهْدِي إِلَى الْجَنَّةِ وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيَصْدُقُ حَتَّى يَكُونَ صِدِّيقًا وَإِنَّ الْكَذِبَ يَهْدِي إِلَى الْفُجُورِ وَإِنَّ الْفُجُورَ يَهْدِي إِلَى النَّارِ وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيَكْذِبُ حَتَّى يُكْتَبَ عِنْدَ اللهِ كَذَّابًا. (صحيح مسلم، بې تا، حدیث ۲۶۰۷). ژباړه: یقیناً صداقت بنده د نېکۍ لور ته بیايي او نېکي بنده د جنت لور ته بیايي، تر دې پوري چې رښتیا ویونکی سړی د الله ﷻ په نزد صدیق ولیکل شي او یقیناً درواغ سړی د بدو کارونو لور ته بیايي او بد کارونه سړی د اور لور ته بیايي، تر دې چې درواغ ویونکی سړی د الله ﷻ په نزد درواغجن ولیکل شي. بناءً، دا حدیث د اخلاقي فلسفې بنسټیز اصل بیانوي چې ټول فسادونه له کذب څخه سرچینه اخلي، او جعل د همدې کذب سازمان‌یافته او حقوقي بڼه ده.

بل حدیث کې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: آيَةُ الْمُنَافِقِ ثَلاَثٌ إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ، وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ، وَإِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ. (صحيح البخاري، ۱۴۰۷هق. ص ۲۴). ژباړه: د منافق نښې درې دي؛ کله چې خبري کوي درواغ وايي، کله چې وعده وکړي وعده خلافي کوي، کله چې امانت ور وسپارل شي خیانت پکې کوي. بناءً، خیانت د نفاق له نښو څخه ګڼل سوی، او جعل کوونکی په حقیقت کې د امانت خلاف عمل کوي.

### ۳- فقهي قواعد او مقاصد الشريعة

د فقهي قواعدو له مخې جعل او تزوير يو مركب جرم دى چې په ځان کې څو مستقل محرمات راټولوي: كذب (دروغ)، غش (فريب)، اكل مال بالباطل، خيانت، او كله كله ظلم او تدليس. له همدې امله فقهاوو دا حرام مغلظ بللی، يعني داسې حرام چې شدت يې زيات او اغېزې يې پراخې دي(ابن نجيم، ۱۹۹۹م. مخ ۸۷).

د سدالذرائع قاعده دلته په واضح ډول تطبيقېږي، ځکه جعل او تزوير د فساد، شخړو، دروغجنو دعوو او د عدالت د سقوط سبب ګرځي. نو شريعت نه يوازې دا عمل حرام ګرځوي، بلکې د دې ټولې لارې هم بندوي چې دې جرمونو ته لاره هواروي. همدارنګه د الضرر يزال قاعده ايجابوي چې هر ضرر بايد له منځه يوړل شي. د مقاصد الشريعة له نظره، جعل او تزوير د شريعت له بنسټيزو اهدافو سره هم ټکر لري، په ځانګړي ډول: حفظ المال (د مال ساتنه)، حفظ الدين (د صداقت او امانت ارزښتونه)، حفظ العقل (د حقيقت او اعتماد نظام) اوحفظ النظام العام (عامه نظم). (ابن نجيم، هماغه، مخونه ۸۷ – ۹۰).

### د: د جعل او تزوير مجازات د اسلامي امارت د جز ايي اصولنامې په رڼا کې

دا چې جعل او تزوير د داخلي او خارجي امنيت پر ضد له جدي جرمونو څخه شمېرل کېږي او د تعزيري جرمونو په ډله کې راځي، نو د اسلامي شريعت د صريحو احکامو ترڅنګ، د افغانستان د اسلامي امارت د ۱۴۴۷/۷/۱۵هق نېټې جزايي اصولنامې هم دغه اعمال جرم ګڼلي دي. ياده اصولنامه په دوهم باب کې په لومړي او دوهم فصلونو (له ۸۲ څخه تر ۹۴ مادو پورې) کې د جعل او تزوير مختلف ډولونه او د هغوی مجازات په تفصيلي ډول بيان کړي دي، چې په لاندې ډول يې تشريح کېږي:

### ۱. د رسمي او دولتي اسنادو د جعل مجازات (مادې ۸۲–۸۵)

۱.۱. د لوړ پوړو اسنادو جعل (ماده ۸۲):

د اميرالمؤمنين فرمان، د رئيس الوزراء حکم، د قاضي القضات حکم، د وزيرانو د شورا مصوبه او د محکمې فيصلې جعل د درې کلونو حبس موجب ګرځي. همدارنګه د همدې اسنادو د مهر او لاسليک جعل هم ورته حکم لري. د داسې اسنادو قصدي استعمال د دوو کلونو حبس سبب ګرځي، او د تکرار يا د دولتي کارکوونکي له لوري د ارتکاب په صورت کې جزا نوره هم زياتېږي.

۱.۲. د لوړ پوړو مسؤلينو د اسنادو جعل (ماده ۸۳):

د وزيرانو، واليانو او نورو لوړ رتبه مسؤلينو د مکتوبونو، مهرونو او لاسليکونو جعل د يو کال څخه تر يو نيم کال پورې حبس لري، او د جعلي اسنادو استعمال هم په همدې چوکاټ کې جزايي مسؤليت لري.

۱.۳. د ټيټې کچې ادارو د اسنادو جعل (ماده ۸۴):

د رئیس، ولسوال او امنیه قوماندان په څېر د ټیټې کچې مسؤلینو د اسنادو جعل ته د اته میاشتو حبس ټاکل شوی، خو د استعمال یا تکرار په صورت کې جزا زیاتېږي.

۱.۴. د محاکمو او وثیقو جعل (ماده ۸۵):

د محاکمو او وثیقو جعل له جدي جرمونو څخه ګڼل کېږي او درې کلن حبس لري. د داسې اسنادو استعمال دوه کلن حبس موجب ګرځي. همدارنګه د نورو رسمي اسنادو جعل تر دوو کلونو حبس پورې جزا لري.

### ۲. د خصوصي او بانکي اسنادو جعل (مادې ۸۶–۸۷)

۲.۱. د خصوصي ادارو اسناد (ماده ۸۶):

د خصوصي ادارو د اسنادو جعل شپږ میاشتې حبس لري.

۲.۲. قبالې، وثیقې او بانکي نوټونه (ماده ۸۷):

د قبالو، وثیقو او بانکي نوټونو جعل تر درې کلونو حبس پورې جزا لري.

### ۳. په تجارتي او صنعتي برخه کې جعل او درغلي (ماده ۸۸)

په دې برخه کې لاندې اعمال جرم ګڼل شوي دي:

- د تجارتي نښو جعل
- د خراب مال په ښه نوم خرڅول
- د درملو تقلب
- په تول او ترازو کې درغلي

د یادو جرمونو جزا له څو ورځو څخه تر یو کال پورې حبس ټاکل شوی، چې موخه یې د بازار د نظم او د مصرف کوونکو د خوندیتوب تأمین دی.

### ۴. د خوراکي توکو، روغتیایي محصولاتو او قاچاق اړوند جرمونه (مادې ۸۹–۹۳)

۴.۱. بې‌کیفیته خوراکي توکي (ماده ۸۹):

د بې‌کیفیته خوراکي توکو تولید او واردات جرم ګڼل کېږي او د جواز تعلیق، حبس او اداري جزاګانو لامل ګرځي.

۴.۲. بې‌اجازې واردات او قاچاق (ماده ۹۰):

بې‌اجازې واردات او قاچاق د توکو د ضبط یا له منځه وړلو ترڅنګ تر یو کال پورې حبس لري.

۴.۳. د درملو او روغتیایي محصولاتو سرغړونې (ماده ۹۱):

لکه بېاجازې واردات، د ثبت نه بشپړول، رشوت او غیرمعیاري ساتنه چې د فعالیت د تعلیق، حبس او د جواز د لغوه کېدو سبب ګرځي.

۴.۴. ډلهییز قاچاق (ماده ۹۲):

که قاچاق په منظمه او ډلهییزه توګه ترسره شي، د ډلې مشر او غړي تر لسو کلونو پورې په حبس محکومېږي.

۴.۵. د کیفیت او معیار جعل (ماده ۹۳):

د مهرونو، تصدیق پاڼو، لیبلونو، جعلي ویبپاڼو جوړول او نور د کیفیت اړوند جعل جرم ګڼل کېږي او له څو میاشتو څخه تر دوو کلونو پورې حبس لري. همدارنګه رشوت اخیستل او ورکول هم په همدې چوکاټ کې جزا لري.

## پایله

د پورتنۍ څېړنې په پای کې دې پایلي ته رسیږو: چې جعل او تزویر که څه هم په ظاهره سره نږدې مفاهیم دي، خو په ماهوي، موضوعي او حقوقي لحاظ له یو بل څخه واضح توپیر لري، او هر یو یې ځانګړی حقوقي تعریف، جرمي عناصر او تطبیقي ساحه لري. د څېړنې له مخې ثابته سوه چې جعل تر ډېره د مالي وسایلو لکه بانکنوټونو، سکو او نورو اقتصادي ارزښت لرونکو توکو سره تړاو لري، حال دا چې تزویر بیا په اسنادو، مهرونو، لاسلیکونو او لیکنو کې د حقیقت خلاف بدلون او تحریف ته ویل کېږي. همدارنګه دا هم څرګنده سوه چې د دواړو جرمونو د تحقق لپاره د قانوني، مادي او معنوي عناصرو شتون اړین دی، او په ځانګړي ډول د قصد (معنوي عنصر) شتون د دې جرمونو بنسټیز شرط ګڼل کېږي.

همداراز، د اسلامي امارت د جزایي اصولنامې له مخې کله جعل او تزویر د اسنادو، مهرونو، لاسلیکونو او مالي وسایلو په برخه کې ترسره شي او له امله یې افرادو او ټولنې ته مالي، حقوقي او ټولنیز زیانونه ورسېږي، نو دا اعمال د قانون له مخې جرم ګڼل کېږي او د نوعیت، د سند د اهمیت، د مرتکب د موقف او د تکرار حالت ته په کتو سره ورته او متفاوت تعزیري مجازات ټاکل شوي دي؛ لکه د لوړپوړو دولتي اسنادو جعل چې تر درې کلونو حبس پوري رسېږي، د نورو رسمي اسنادو جعل چې هم د حبس په سختو ډولونو سره مجازات لري، د تجارتي او صنعتي جعل موارد چې له څو میاشتو تر یو کال پوري حبس لري، او په ځینو سختو او منظمو مواردو کې چې جرم پراخ او خطرناک وي، تر لسو کلونو پوري حبس هم ټاکل سوی دی. له همدې سره، د اصولنامې له مخې د جعلي اسنادو استعمال، ترویج او په قصد سره استفاده هم د مستقلو جزایي مسئولیتونو سبب ګرځي. دا ټول ښیي چې د اسلامي امارت قانون جوړونکي د دې جرمونو د خطر شدت ته په

کتو سره د ټولنیز نظم، اقتصادي ثبات او عامه اعتماد د ساتنې لپاره جامع او عملي جزايي چوکاټ رامنځته کړی دی.

له فقهي اړخه دا ثابت سوه چې جعل او تزویر د کبائرو له جملې څخه دي او د کذب، غش، خیانت او اکل مال بالباطل څرګند مصداقونه ګڼل کېږي، چې د قرآن کریم په آیتونو (لکه البقرة: ۱۸۸، النساء: ۴۶، الحج: ۳۰) او نبوي احادیثو کې یې حرمت په څرګند ډول بیان سوی دی. له همدې امله دا جرایم نه یوازې قانوني سرغړونه، بلکې اخلاقي او ایماني انحراف هم ګڼل کېږي، ځکه د انساني تعاملاتو بنسټیز اصل چې اعتماد دی، له منځه وړي.

ددې ترڅنګ؛ د څېړنې موخه هم په بشپړه توګه ترلاسه سوه. ځکه په دې څېړنه کې هم مفهومي توپیرونه روښانه سول، هم شرعي حکم مستند سوه، هم قانوني تطبیقي چوکاټ تحلیل سو، او هم د مجازاتو عملي بڼه تشریح سوه.

خلاصه دا چې جعل او تزویر هغه جرایم دي چې که څه هم فردي بڼه لري، خو ټولنیز، اقتصادي او حقوقي اغېزې یې ډېرې پراخې دي. له همدې امله د دې جرمونو مخنیوی یوازې د جزايي سزاوو په تطبیق نه، بلکې د شرعي پوهاوي لوړولو، اداري شفافیت، قانوني حاکمیت او ټولنیز وجدان د پیاوړتیا له لارې ممکن دی، ترڅو د عدالت، اعتماد او ټولنیز ثبات ارزښتونه په مؤثر ډول خوندي پاتې شي.

## وړاندیزونه

- د قضايي ارګانونو د مسلکي کارمندانو لپاره دې د اسناد پوهنې (Document Examination) اړوند روزنیز پروګرامونه جوړ شي، ترڅو د جعلي اسنادو کشف وړتیا لوړه شي.
- د بانک نوټونو، سکو، رسمي مهرونو او لاسلیکونو د جعل لپاره دې د جزا مقدار زیات شي، ځکه دا جرمونه د ټولنې پر باور او د ملي اسعارو پر اعتبار مستقیم اغېز کوي.
- ټول دولتي ادارې دې د خپلو اسنادو، مهرونو او لاسلیکونو د اصالت د ساتنې لپاره معیاري پروتوکولونه (لکه: د اسنادو څو نسخې کول، د الکترونیکي ثبت سیستم) لازمي کړي.
- د عامو خلکو د پوهاوي لپاره دې د رسنیو له لارې عامه پوهاوي پروګرامونه ترسره شي، ترڅو د جعلي اسنادو، جعلي پیسو او جعلي مهرونو د پېژندلو وړتیا په ټولنه کې لوړه شي.
- سوداګر دې په خپلو معاملاتو کې له قانوني او تصدیق سویو اسنادو څخه کار واخلي او د غیر رسمي اسنادو له کارولو څخه ډډه وکړي.
- راتلونکې څېړونکي دې د افغانستان د محکمو د عملي قضیو پر بنسټ میداني څېړنې ترسره کړي.

## اخځلیکونه


۱. القرآن الکریم.

۲. الحسن، محمد عثماني، او شفیع‌الله. (۱۴۰۴هق). **کابلي تفسیر** (چاپ ۱). ریاض: د فهد بن عبدالعزیز د چاپ مرکز .

۳. البخاري، محمد بن إسماعیل بن إبراهیم بن المغیرة، أبو عبدالله. (۱۴۰۷ق). **الجامع الصحیح البخاري** (چاپ ۱). القاهرة: دار الشعب .

۴. المسلم، أبو الحسین مسلم بن الحجاج بن مسلم القشیري النیشابوري. (بې‌تا). **جامع صحیح مسلم** (چاپ ۱). بیروت: دار الجیل .

۵. الترمذي، محمد بن عیسی بن سورة. (۱۴۳۹ق). **سنن الترمذي** (چاپ ۱). الریاض: مکتبة المعارف .

۶. ابن نجیم، زین‌الدین بن إبراهیم. (۱۹۹۹م). **الأشباه والنظائر علی مذهب أبي حنیفة** (چاپ ۱)، ج. ۱، ص. ۸۷–۹۰). بیروت: دار الکتب العلمیة .

۷. سحاب، سید نعیم سحاب. (۱۳۹۷ل). **جرم تزویر در حقوق جزای افغانستان**. فصل‌نامه علمي. پژوهشي څارنوال، چاپ ۱، شماره ۵۲ .

۸. دانش، حفیظ‌الله دانش. (۱۳۹۶ل). **د جزا عمومي حقوق** (چاپ ۱، ټ. ۱). کابل: مستقبل خپرندویه ټولنه.

۹. د افغانستان اسلامي امارت. (۱۴۴۶هق). **اصول‌نامه جزايي** (چاپ ۱). کابل: د عدلیې وزارت.

۱۰. ذاکر، محمد اشرف ذاکر. (۱۳۹۸ل). **شرح جزا کود** (چاپ ۱، جلد ۲). کابل: چاپخانه سعید، بنیاد آسیا .

۱۱. کرامت، عبدالصمد، او امیرزوی، محمد کریم. (۱۳۹۶ل). **دقضایي دوسیو کتنه او څېړنه** (چاپ ۱). کابل: تمدن خپرندویه ټولنه.

۱۲. صادقي، محمد هادي. (۱۳۷۴ل). **جرایم علیه امنیت و آسایش عمومی** (چاپ۱). تهران: دانشکده معارف اسلامي .

۱۳. عارفي، محمد. (۱۳۹۸ل). **کریمنالستیک** (چاپ ۱). ننګرهار: یار خپرندویه ټولنه.

۱۴. عودة، عبدالقادر. (بې‌تا).**التشریع الجنائي الإسلامي مقارناً بالقانون الوضعي** (چاپ۱). بیروت: دارالکاتب العربي .

۱۵. معین، محمد. (۱۳۸۵ل). **فرهنګ جامع معین** (چاپ ۱). تهران: انتشارات امیرکبیر.

۱۶. واثق درانی، عبدالواحد. (۱۳۹۷ل). **د جزا اختصاصي حقوق (د اموالو او عامه مصالحو پر ضد جرایم)** (چاپ ۱، ټ. ۲). ننګرهار: یار خپرندویه ټولنه.

۱۷. واصل، احمد. (۱۳۹۸ل). **د جزا اختصاصي حقوق، دوهمه برخه (د اموالو په وړاندې جرایم)** (چاپ ۱). ژباړه: ذبیح‌الله ذاکر. کابل: نوی مستقبل خپرندویه ټولنه .